مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب پاڅون ٢٠٢۶/٠٩/١٢

# هغه پټه لومړنۍ امریکايي ډله

## چې له میلیونونو ډالرو سره پنجشېر ته ورسېده



د سپټمبر له پېښې یوازې ۱۵ ورځې وروسته؛ یوه روسي چورلکه او د «سي‌ای‌اې» د پټو عملیاتو پیل

د سپټمبر د ۱۱مې پېښې او له هغې وروسته د امریکا د جګړې ناوړه اغېزې؛ تر نن ورځې پورې د افغانستان په سیاست، امنیت، اقتصاد او ټولنه کې لیدل کېږي .

خو د دې اوږدې جګړې د پیل کیسه یوازې له هغه ځایه نه پیلېږي چې امریکايي پوځونه په پراخه کچه افغانستان ته دننه شول .

د هغې تر شا، له کابل څخه زرګونه کیلومتره لرې، د امریکا د مرکزي استخباراتي ادارې یوه وړه او پټه ډله لا له وړاندې افغانستان ته د ننوتلو لپاره چمتو شوې وه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سپټمبر له پېښې یوازې پنځلس ورځې وروسته؛ یعنې د دې میاشتې په ۲۶مه یوه روسی جوړه شوې، خو د «سي‌ای‌اې» له خوا ځانګړې شوې چورلکه د تاجکستان له دوشنبې څخه راپورته او د هندوکش له نږدې پنځلس زره فوټه لوړې لارې واوښته او پنجشېر کې ښکته شوه .

له چورلکې څخه هغه کسان راکوز شول چې د افغانستان په راتلونکو شلو کلونو کې یې د امریکا د جګړې د لومړنیو پټو عملیاتو مهمه برخه پر مخ وړله .

دا د «جاوبریکر» په نوم د عملیاتو پیل و .

له دوی سره یوه کوچنۍ استخباراتي ډله، مخابراتي وسایل، وسلې، مهمات او یو درونډ بکس و؛ په هغه بکس کې درې میلیونه ډالر نغدې پیسې پرتې وې .

***د سپټمبر ۱۱ له برید یوه ورځ وروسته د جګړې طرحه

د افغانستان موضوع د امریکا لپاره له سپټمبر ۱۱ مې وروسته نوې نه وه .

سي‌ای‌اې له کلونو راهیسې په افغانستان کې استخباراتي شبکې لرلې، له شوروي جګړې وروسته یې له افغان مجاهدینو «اشرارو» سره پراخې او ژورې اړیکې ساتلې وې او په ۱۹۹۰مو کلونو کې یې له شمالي ټلوالې او د هغې له مشرانو سره هم اړیکې جوړې کړې وې .

همدا پخوانۍ اړیکې وروسته د امریکا لپاره د افغانستان تر ټولو مهمو برخو شوې .

د سي‌ای‌اې مشر «جورج ټنېټ» د سپټمبر له بریدونو یوازې یوه ورځ وروسته، د سپټمبر په ۱۲مه، د افغانستان لپاره د «سي‌ای‌اې» د پټو پارا-پوځي ډلو د استولو پر طرحه کار پیل کړی و، د امریکا موخه یوازې د القاعدې غړې موندل نه وو؛ د پلان بله برخه دا وه چې د طالبانو پر ضد د افغانستان دننه موجود مخالف ځواکونه د امریکا له راتلونکو پوځي عملیاتو سره وتړل شي .

خو د دې کار لپاره داسې کس ته اړتیا وه چې افغانستان وپېژني، افغان مشران وپېژني، ژبې یې زده وي او د پټو عملیاتو تجربه ولري .

هغه کس « ګري شروین» و، هغه افسر چې د تقاعد لپاره یې بکس تړلی و .

شروین د سي‌ای‌اې عادي مامور نه و هغه د امریکا د استخباراتي اداري په پټو عملیاتو کې یې شاوخوا ۳۲ کاله تېر کړي وو، په ۱۹۷۰مو کلونو کې یې په تهران او اسلاماباد کې د پټو استخباراتي افسر په توګه کار کړی و، په ۱۹۸۰مو کې یې په دوبۍ کې د «سي‌ای‌اې» د مرکز مشري کړې وه او وروسته د کابل د استخباراتي مرکز مشر شوی هم و؛ هغه مهال چې په کابل کې د امریکا سفارت وتړل شو، سي‌ای‌اې د افغانستان چارې یې له اسلاماباده پر مخ وړلې .

شروین له ۱۹۹۶ تر ۱۹۹۹ پورې په اسلاماباد کې د «سي‌ای‌اې» د مرکز مشر و او له افغانستان او د شمالي ټلوالي له مشرانو سره یې پخوانۍ اړیکې لرلې، نوموړي په پښتو او دري هم رواني خبرې کولې .

د سپټمبر په ۱۱مه شروین د تقاعد په درشل کې و؛ خو څلور ورځې وروسته د سي‌ای‌اې د ترهګرۍ ضد مرکز مشر «کوفر بلیک» ورته زنګ وواهه .

د هغه پیغام ساده و؛ افغانستان ته یو ټیم باید سمدستي ولېږل شي، او شروین د دې کار لپاره مناسب کس دی .

په دې توګه هغه څوک چې باید له سي‌ای‌اې تقاعد شوی وای، ناڅاپه د افغانستان د راتلونکې جګړې د لومړنیو امریکایي مخکښانو مشر شو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

»جاوبریکر»؛ د شمالي افغانستان پټه اړیکه

د دې ډلې رسمی نوم د افغانستان د شمالي اړیکو ډله او د عمیاتو نوم یې «جاوبریکر» و .

د سیایاې رسمي ثبت له مخې په دې عملیاتو کې د دې استخباراتي اداري اووه افسران، درې د الوتني عمله او دوه افغان همکاران شامل وو .

واشنګټن پوسټ د لومړۍ ښکته کېدنې عملیاتي ډله لس تنه بللې، څکه د الوتني عمله او د ځمکنی ډلې غړي یې په خپل جلا شمېر کې راوستي دي؛ خو د سیایاې رسمي تاریخي ثبت د اصلي ټیم جوړښت اووه افسران، درې هوایي کسان او دوه افغان همکاران ښیي .

د سیایاې د ترهګرۍ ضد مرکز مشر «بلیک» لاربښوونه ورته واضحه وه؛ له شمالي ټلوالې سره اړیکه جوړه کړئ، د امریکا د راتلونکو ځواکونو لپاره زمینه برابره کړئ او د القاعدې مشران وموميځ .

د واشنګټن پوسټ د شروین له روایت سره سم، هغه ته د عملیاتو په اړه تر دې هم سخت هدف ورکړل شوی و؛ القاعده پیدا او له منځه یوسئ، اسامه بن لادن وموميځ .

***هغه روسی چورلکه چې امریکایان یې افغانستان ته ورسول

دا روسي جوړه «ایمای ۱۷» چورلکه د امریکا د پوځ یوه عادي چورلکه نه وه؛ سیایاې دا له مخکې اخیستې وه او د پټو عملیاتو لپاره یې چمتو کړې وه .

د چورلکې انتخاب هم عملي دلیل درلود؛ په افغانستان کې له دې ډول الوتکو سره خلک بلد وو او د لوړو، سختو غرنیو سیمو لپاره مناسبه وه .

چورلکه باید د انجمن «لوړي غره بیزي» له شاوخوا ۱۴۵۰۰ فوټه لوړې لارې واوړې، د سیایاې د جان برېنن په رسمي وینا کې دا ارتفاع نږدې ۱۵ زره فوټه ښودل شوې ده، د چورلکې بار هم درووند و؛ وسلې، مهمات، مخابراتي وسایل، د ژوندي پاتې کېدو تجهیزات او نغدې پیسې ورسره وې .

خطر یوازې غرونه نه و، په هغه وخت کې طالبانو لا د افغانستان په ډېرو برخو کې حضور درلود، د واشنګټن پوسټ د روایت له مخې، د ټیم غړي اندېښمن وو چې که د دښمن کومه ډله په غرونو کې د ستینګر توغندي یا د الوتکو ضد وسلې ولري، دغه درنه چورلکه به اسانه هدف شي .

د سیایاې په رسمي روایت کې د سپتمبر ۲۶ د ښکته کېدو وخت شاوخوا ۲:۴۰ بجې سهار ښودل شوی؛ واشنګټن پوسټ بیا د پنجشېر شمال ته د ناستې وخت شاوخوا درې بجې یادوي .

***تور بکس؛ درې میلیونه ډالر

د شروین تر پښو لاندې یو درووند فلزي بکس و، دننه یې درې میلیونه امریکایي ډالر وو، ټول په ۱۰۰ ډالري نوټونو کې .

د واشنګټن پوسټ په روایت کې شروین ټوکه کوله چې په فلمونو کې چې څوک یو میلیون ډالر په کوچني بکس کې وړي، هغه ریښتیا نه ده؛ څکه دومره پیسې ډېر ځای نیسي .

خو دا یوازې د عملیاتو د لګښت لپاره پیسې نه وې، په افغانستان کې د پیسو ژبه د جګړې یوه مهمه ژبه وه .

د دې پیسو له لارې خواړه، وسلې، مهمات، د جنګیالیو اړتیاوې، استخباراتي سرچینې او د قوماندانانو د همکارۍ زمینه برابرېدای شوه، تر دې مهمه دا چې امریکا لا په افغانستان کې لوی پوځ نه درلود؛ خو د شمالي ټلوالې جنګیالي، سیمه‌ییز معلومات او د طالبانو پر وړاندې د جګړې تجربه لرله .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نو د واشنګټن لپاره محاسبه ساده وه؛ ولې خپله لسګونه زره سرتېري لومړی راولېږو، کله چې په افغانستان کې له وړاندې داسې څواک شته چې زموږ په پیسو، استخباراتو او هوایي ملاتړ جګړه کولی شي؟

***لومړۍ شپه؛ ۵۰۰ زره ډالر پر مېز

چورلکه د کابل شمال ته شاوخوا ۷۰ میله لرې، د شمالي ټلوالې په سیمه کې ښکته شوه .

دوه افغان افسران او نور کسان یې د هرکلي لپاره ولاړ وو، وسایل یې پر یوه لوی موټر کېښودل او نږدې کلي ته ولاړل، د کلي دوارو خواوو ته پوستې جوړې شوې وې، ځکه د شمالي ټلوالې غړي هم پوهېدل چې د امریکایي ټیم حضور باید پټ وساتل شي .

تر ماښامه خوندي مخابراتي اړیکې جوړې شوې، او بیا شروین خپلې لومړنی ناستې ته ولاړ .

د شمالي ټلوالې د استخباراتو او امنیتي اداري مشر «محمد عارف سروري» هغه وپېژاند، سروري له شروین سره مخکې هم لیدلي وو، په ځانګړي ډول د مسعود له شبکې سره د سي‌ای‌اې د پخوانیو تماسونو له لارې .

شروین پر مېز ۵۰۰ زره ډالر کېښودل، ده ورته وویل؛ خواړه واخلئ، وسلې واخلئ، خپل ځواکونه پیاوړي کړئ، استخباراتي فعالیتونه وکړئ او سرچینو ته پیسې ورکړئ .

د شروین پیغام یوازې مالي نه و؛ امریکا راغلې ده؛ جدي ده؛ او نورې پیسې هم لري .

***فهیم او عبدالله ته یو میلیون ډالر

د سپتمبر په ۲۷مه، شروین د شمالي ټلوالې له پوځي مشر محمد فهیم او بهرنیو چارو له مسوول عبدالله سره ولیدل .

دا ځل یې پر مېز یو میلیون ډالر ورته کېښودل؛ فهیم ورته ویلي و شاوخوا لس زره جنګیالي لري؛ خو ډېری یې کمزوري تجهیزاتو څخه برخمن دي .

شروین ورته وویل چې د امریکا ځواکونه به راځي، خو دا چې کله او په کوم شمېر، لا دقیق نه دي .

فهیم بیا تېرې پوښتنه وکړه :

جګړه کله پیلېږي؟ امریکا کله راځي؟

شروین دقیق ځواب نه درلود، خو ډاډ یې ورکړ چې ډېر ژر به څه داسې ووینې چې مخکې یې نه وي لیدلي .

وروسته شروین له سي‌ای‌اې مرکزه ۱۰ میلیونه ډالر نورې نغدې پیسې وغوښتې او ترلاسه یې کړې .

دلته د ۳ او ۱۰ میلیونو ترمنځ توپیر مهم دی، درې میلیونه هغه لومړنی نغدې وې چې له ټیم سره پنجشېر ته انتقال شوې؛ لس میلیونه وروسته د عملیاتو د پراخولو لپاره له مرکزه غوښتل شوې وې، همدارز ځینې سرچینې بیا وایي چې ۷۰ میلیونه ډالر نور هم پنجشیر ته ورسېدل .

***جابرېکر یوازې د پیسو ډله نه وه

که د جابرېکر کیسه یوازې د نغدو پیسو تر کچې محدوده کړو، د عملیاتو تر ټولو مهم اړخ له لاسه ورکوو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شروين خپل کسان د شمالي ټلوالي د جبهې پر لور واستول، د تخار په سيمه کې، د کندوز ختيځ ته يې د طالبانو او شمالي ټلوالي د لومړۍ کرښې وضعيت وکوت .

وررته مهال بيا طالبانو خپلې کرښې کلکې کړې وې .

خو شروين يوه بله نتيجه واخيسته؛ که امريکا د طالبانو پر لومړۍ کرښه درونډ او دوامدار بمبار وکړي، ښايي د طالبانو دفاع دومره ژر ماته شي چې واشنګټن يې تصور نه کوي .

د اکتوبر په لومړۍ نيټه يې همدې پايلې ته په کتو واشنګټن ته پټ راپور واستاوه .

په سي‌اي‌اې کې ځينو تجربه‌کارانو د ده له ارزونې سره مخالفت وکړ، دوی فکر کاوه طالبان به سخت مقاومت وکړي او د امريکا بريد به په افغانستان او پاکستان کې د طالبانو ملاتړي نور هم سره راټول کړي .

خو د سي‌اي‌اې مشر جورج ټنيټ دغه راپور ولسمشر جورج ډبليو بوش ته ورساوه .

د بوش ځواب لنډ و :

«زه له دې ډول معلوماتو نور هم غواړم.»

***د پروان او کاپيسا ګلبهار هوايي ډګر؛ جګړه بايد له اسمانه هم اکمال شي

د اکتوبر په ۳مه شروين د شمالي ټلوالي په سيمه کې د يوه هوايي ډګر په لټه کې شو، ټيم د ګلبهار په سيمه کې داسې هوايي ډګر وموند چې برېتانويانو په ۱۹۱۹ کال کې کارولی و .

شروين له عارف سروري وغوښتل چې د هوايي ډګر يوه برخه برابره کړي .

بيا يې ۲۰۰ زره ډالر ورکړل، درې جيپونه يې په ۱۹ زره ډالرو واخيستل او د ټانکر موټر او چورلکې د تېلو لپاره يې ۲۲ زره ډالر ورکړل، د تېلو موټر بايد له دوشنبې څخه د غرونو له لارې راوړل شوی وای؛ خو دغه موټر هېڅکله ټيم ته ونه رسېد .

***د جګړې بله وسله؛ پيسې

د سي‌اي‌اې د ځانګړو عملياتو يو مشر  چې د «هېنک» په نوم معرفي شوی، هغه بيا يوه بله محاسبه هم وړاندې کړه .

د نوموړي په خبره په افغانستان کې د نغدو پيسو اغېز ډېر و، د لسګونو جنګياليو د يوه قوماندان د اړولو لپاره ښايي ۵۰ زره ډالر کافي وای؛ د لوی قوماندان او سلګونو کسانو لپاره هم د څو لکو ډالرو معامله ممکنه وه .

په دې توګه، امريکا کولای شول ځينې طالبان له جګړې مخکې په پيسو له جګړې وباسي .

دا د افغانستان د جګړې يوه له تر ټولو پټو وسيلو څخه وه .

د واشنګټن پوسټ په روايت کې وروسته حتی يوه بېلګه راغلې چې د يوه افغان قوماندان د اړولو لپاره ۵۰ زره ډالر وړانديز شول، هغه د فکر کولو وخت وغوښت؛ امريکايي ځانګړو ځواکونو د هغه د مرکز څنګ ته يو دقيق بم وغورځاوه؛  بله ورځ بيا ورسره اړيکه ونيول شوه او د ۴۰ زره ډالرو وړانديز يې ومانه، د جګړې او پيسو دا ګډ منطق د طالبانو د دفاعي جوړښت د کمزوري کولو يوه مهمه برخه وه .

***«يوازې لومړۍ کرښه ووليځ»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

شروین ولیدل چي طالبان لا هم د لومړۍ کرښې پر سر ولاړ دي او د شمالي ټلوالي مورال کمېږي .

هغه بیا واشنګټن ته پیغام واستاوه او هغوی ته یې وویل؛ که بمبار دوامداره او متمرکز نه شي، شمالي ټلواله به خپل باور له لاسه ورکړي .

د نوموړي په خبره که څو ورځې پرله‌پسې سخت بمبار وشي، د طالبانو ځوان جنګیالي بنایي مات شي .

دا دویمه مهم استخباراتي ارزونه وه چي د جګړې پر لوري یې اغېز وکړ .

***۱۹ اکتوبر؛ د «ټرپیل نېکل» ډلې راوسېدل

د اکتوبر په ۱۹مه د «جابرېکر» د ماموریت بله مرحله پیل شوه .

د امریکا ځانګړو ځواکونو ټیم « ۵۵۵»، چي «ټرپیل نېکل» هم بلل کېده، افغانستان ته ددننه شول .

د شپې شاوخوا ۱۰:۲۰ بجې د جابرېکر ډلې د شمالي په دښته کي د هغوی لپاره د ناستي ځای مشخص کړ .

دوې «پیو لو درې پنځوس» چورلکې ورسېدې، خو د هوا او مسیر د ستونزو له امله له ټاکلي ځایه واوښتې او بېلابېلو نورو ځایونو کي ښکته شوې .

د ځانګړو ځواکونو د ټیم مشري «ډیوید ډیاز» کوله او شاوخوا ۱۲ کسان ورسره وو .

هر سرتېري نږدې ۳۰۰ پونډه تجهیزات له ځان سره لرل، چي د هدفونو د لیزري نښه کولو وسایل هم پکي شامل وو .

اوس هغه شبکه بشپړه شوه چي جابرېکر یې د سپټمبر په ۲۶مه پیل کړې وه .

له دې سره امریکایي الوتکو د ځمکنیو ټیمونو له نښه کولو سره دقیق بمونه کارول پیل کړل او د طالبانو اکمالاتي لارې او مخابرات یې پرې او سلګونه کسان یې ووژل .

نو هغه څه چي د سپټمبر په ۲۶مه د یوې روسي چورلکې، د سي‌ای‌اې څو افسرانو، شمالي ټلوالي او درې میلیونه ډالرو په یوه پټه الوتنه کي پیل شوي وو، یوازې څو اونۍ وروسته د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ په نسکورېدو بدل شول .

***هغه روسۍ چورلکه؛ د جګړې له لومړۍ ورځې تر موزیمه او د چورلکې لکۍ باندې ولې «۹۱۱۰۱» شمېره ولیکل شوه؟

د جابرېکر هماغه روسي ایم‌ای۱۷ هم د دې تاریخ یوه برخه پاتې شوه .

سي‌ای‌اې وروسته د هغې لکۍ ته ۹۱۱۰۱ شمېره ورکړه؛ د «۹-۱۱-۰۱» په بڼه، د سپټمبر ۱۱مې د قربانیانو د یاد په موخه .

چورلکه کلونه وروسته بېرته وساتل شوه او په ۲۰۱۹ کال کي د «سي‌ای‌اې» مرکزي دفتر ته انتقال شوه، څو د دې اداري په موزیمي ټولګه کي ننداري ته کېښودل شي .

یعني هغه روسۍ چورلکه چي د سپټمبر له ۱۱مې یوازې ۱۵ ورځې وروسته امریکایي استخباراتي افسران یې د هندوکش له لوړو غرونو واړول، وروسته خپله د هماغې پېښې یوه تاریخي نښه وګرځېده .

***پای؛ افغانستان کي د امریکا جګړه له لوی لښکره نه، له یوې پټې دروازې پیل شوه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

کله چې د سپټمبر د ۱۱مې د بریدونو ۲۵ کاله وروسته د افغانستان د جګړې لومړنۍ ورځې راوسپړو، د هغې لومړۍ صحنه د ټانکونو، زرګونو سرتېرو او لویو پوځي اډو صحنه نه ده .

لومړۍ صحنه یوه روسی چورلکه ده، هندوکش دی، پنجشېر دی او یو تجربه‌کار د سي‌ای‌اې افسر دی چې د تقاعد پر ځای افغانستان ته راستون شو .

او یو تور بکس دی چې درې میلیونه ډالر پکې و .

خو د دې صحنې تر شا یو ډېر لوی جوړښت ولاړ و؛ د «سي‌ای‌اې» کلنې پټې اړیکې، د شمالي ټلوالې له مشرانو سره پخوانۍ پېژندګلوي، د مسعود له وژل کېدو وروسته د هغه د شبکې پاتې ځواکونه، د شروین استخباراتي ارزونې، د افغان قوماندانانو د جلبولو لپاره نغدې پیسې، د جبهې د هدفونو نقشه، ځانګړي ځواکونه، لیزري هدف ټاکنه او امریکایي هوایي ځواک .

په همدې ډول، امریکا افغانستان ته لومړی د پوځ په زور نه، بلکې د استخباراتو، پیسو او شمالي ټلوالې له لارې ننوتله .

او شاید د دې کیسې تر ټولو مهمه پوښتنه اوس همدا وي؛ څنګه د درې میلیونو ډالرو یو بکس، یوه روسی چورلکه او د سي‌ای‌اې څو افسران د داسې جګړې د پیل برخه شول چې امریکا یې شل کاله وروسته هم له افغانستانه په وتلو پای ته ونه شوه رسولای؟

***څېړنې سرچینې او اسناد**

۱- د CIA رسمي JAWBREAKER آرشیف — د عملیاتو د ټیم، ګري شروین او لومړني امریکایي حضور رسمي معلومات .

۲- د CIA رسمي Mi-17 روایت او عکسونه — د روسي چورلکې، پنجشېر ته د سفر او 91101 تاریخ .

۳- د جان برېنن رسمي وینا — د سپټمبر ۲۶، د مسعود له وژنې وروسته وضعیت او د درې میلیونو ډالرو مهم روایت .

۴- د واشنګټن پوسټ اصلي تحقیقي راپور — «CIA Led Way With Cash Handouts» د ګري شروین، ۳ میلیونه ډالرو، ۵۰۰ زره او یو میلیون ډالرو، ۱۰ میلیونو نورو پیسو، ټیم ۵۵۵، مزار، کابل او کندهار د سقوط او د ۷۰ میلیونو ډالرو د مستقیمو نغدو لګښتونو تر ټولو تفصیلي معاصر روایت .

۵- د «First on the Ground» CIA رسمي — PDF د افغانستان د لومړني امریکایي استخباراتي حضور رسمي تاریخي سند .

۶- د «On the Front Lines: CIA in Afghanistan» CIA آرشیف — د لومړنیو عملیاتو او تصویري موادو رسمي آرشیف .

۷- د JSTOR علمي څېړنه — «Boots on the Ground» د ۲۰۰۱ کال د لومړنیو امریکایي ځمکنیو عملیاتو علمي څېړنه .

راټولونه او لیکنه: نجیب پاځون

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولئ